لیکوال او شنونکی: نظرمحمد مطمئن


۰۹ فبروری ۲۰۱۵

## د مسجدونو اړوند ځینې خبرې او ستونزې

تر تولو بد او ناوړه کار په مسجدونو کې د لمونځ کوونکو د بوټونو غلا ده، نږدې د ښار په هر مسجد کې همدغه ستونزه شتون لري، په کلیوالي سیمو کې بیا الحمد لله نشته.

حل يې دادی چې په نوبت سره پرله پسې څو ورځې د لمانځه په وخت کې د بوټونو د ځای څارنه وشي، او یا داچې په مسجدونو کې هغه شورا چې د مسجد ستونزو اړوند پریکړې کوي، د بوټونو د غلا د مخنیوي له پاره کومه مناسبه لار وسنجوي، په کابل کې د حاجي عبدالرحمن مسجد کې د بوټونو ساتلو له پاره یوه افغانۍ غواړي او ټکټ ورکوي، د ښارونو په لویو مسجدونو کې دغه هم یوه ښه طریقه کیدای شي.

ډیر ځله سړي شرمیږي چې بوټونه د لمانځه په وخت کې خپل مخته ږدي، ولې چاره هم نه وي، اوس خو په ځینو فاتحو کې هم د بوټونو غلا او یا ممکن په سهوه سره بدلیدل وي ، ولې په ځینو ورو فاتحو کې د بوټونو د غلا امکان هم شته.

په مسجدونو کې یوبل ناسم کار دادی چې کله ملاامام د فرض لمانځه وروسته سلام وګرځوی، دوه دري نفره هم مهاله سمدستي ږغ کوي او د سوال او پیسو غوښتنه کوي، سمه ده دوی به غریبان وي، اړتیا به لري، ښه داده چې د مسجد د باندي څادر اوار کړي، او د فرض لمانځه وروسته د هغو لمونځ کوونکو چې سنت یا نفل لمونځ کوي دهغوئ ذهن او توجه ورخرابه نه کړی.

اوس یو نوی کار کیږي سوالګر هم د جمعې د خطبې په وخت کې څادر په دوو نفرو نیولي ګرځوي او په صفونو کې ګرځي پیسي ټولوي، دغه خلک د مسجد طالبان نه وي، عادي سوالګر وي، مګر هیڅوک جرائت نه کوي چې هغوئ منع کړي، ښه داده چې د مسجد امام، مؤذن او د مسجد شورا د دغو خلکو سوء استفادې ته متوجه وي.

سمه ده چې په ځینو مسجدونو کې د هغه مسجد د ملاامام په خوښه طالبان د خطبې په وخت کې پیسي په څادر کې ټولوي، زه په دې اړه د اوس له پاره څه نه وایم.

د ښځې اواز اوریدل د نامحرم له پاره پرته له ضرورت څخه حرام دی، کله چې نارینه د جمعې لمونځ اداء کړي، ځینې ښځې د پیسو ټولولو له پاره په لوړ اواز ژاړي، نه داچې ږغ وکړي، دغه ژړا دومره په زوره وي هغه کسان چې سنت لمونځ اداء کوي، دهغوئ توجه اړوي.

دلته له سوالګرو سره ماشومان هم وي، کله چې ځينو ښځو ته پيسي ورکول شي، نورې ميرمنې چې پاتې شي پيسي ورنه کړل شي هغوئ هم بده ورځ کوي، او ماشومان يې بيا سرې ډير تکليف کوي. که د مسجدونو د شورا خلک په دې اړه هم داسې فکر وکړي چې د سوالګرو دسوال طريقه سمه کړل شي. اصل کې خو دغه کار که چيرته اسلامي نظام وي، دهغوئ دنده ده چې ددغه ډول ناسمو کړنو مخنيوې او سمه چاره ورته وسنجوي.

ځيني ورونه بيا د جمعې ورځ او داخترونو ورځو کې داسې بې کيفيته عطر کاروې چې د نورو خلکو د اذيت سبب ګرځې، عطر او خوشبو سنت ده، مګر هغه چې نور خلک ځيني تکليف نه شي، د عطرو په انتخاب کې فکر کول په کار دې.

د ښارونو د مسجدونو ډير زيات واک د مسجد له شورا سره وي، حا ل داچې ځيني شرعي او ديني مسايل وي، په اړوند يې پريکړه بايد له امام سره ومنل شي، مګر په ځينو وختونو کې د مسجد شورا کسان غواړي ځانته ډير حقونه ورکړي. که دشورا مشر يې امام وي بيا به ښه وي.

ځيني جوماتونه د کليوالي او خيلي سياليو په توګه کارول کيږي. هر با نفوذ شخص هڅه کوي، چې پر جومات ډېر تسلط ولري، او په دې توګه په کلي کې خپل رقيبان مات کړي. يعنې پاملرنه د جومات لپاره خو ناروا کار نه دی، دوی دغه پاملرنه د دې لپاره کوي، چې خپل نفوذ غښتلي کړی او د نورو خيلونو او اړخونو نفوذ کمزوری کړي، چې دا هم ډېر سخت ناورا عمل دی، خدای دې موږ او تاسې ترې وساتي.

حج او اوقاف رياست هم د مسجدونو په ملاامامانو ځيني شيان تحميل کوي، داچې د ملا پيژندنه بايد له ځينو ادارو سره ثبت او راجستر شي، داچې ملاامام بايد په ځينو وختونو کې ځينو ادارو ته راپور ورکړي، داچې ملاامام بايد په خطبه کې ددولت تګلاره په نظر کې ونيسي، او په ځينو وختونو کې د خطبو له پاره ځانګړې موضوع ورکول کيږي. البته د ښارونو په مسجدونو کې او هغه مسجدونه چې ددولت سره راجستر دي، که ملاامامان خپلواک او ازاد نه وي، بيا نو د حق ويلو تمه هم هومره نه شي ورنه کيدلای. که د خطيبانو يوه ځانګړې ازاده ټولنه وای، ښه به وای چې په اړينو مسايلو يې بحث کولای او هغه مسايل چې اړين وی د جمعې په خطبه کې يې د ويلو پريکړه کولای.

په کليوالو سيمو کې په مسجدونو کې خلک دنيوي او ډول ډول خبرې کوي، که امام تکړه وي مخنيوی يې اسانه کولای شي. حتی په ځينو سړو سيمو کې خو د ژمي تاوخانه (ګرم ځای او توده کوټه) هم په مسجدونو کې وي، او د ژمي د باندار ځای يې مسجد وي.

ځيني امامان د کلي، سيمې او يا مسجد مشر ته د هغه تر رارسيدو لمونځ ځنډوي، که څه هم تاکلی وخت به پوره وي، دغه کار په نورو لمونځ کوونکو ښه نه لګيږي، ښه داده چې اول خو هغه مشر په خپل وخت لمانځه ته حاضر شي، او که نه ملاامام چې وخت پوره شي بايد اقامت ويلو ته اجازه ورکړي، ځکه جز دکل تابع وي، بل داچې نه احترام دی او نه ثواب چې يو نفر ته له دې کبله نور خلک انتظار شي چې هغه د کلي او يا مسجد مشر دی.

د مسجدونو د ډيروالي خبره په کليو کې ده، يو کلی به وي، مګر کليوال به رقابت کوي، په ډيره لنده فاصله کې به څو مسجدونه وي، ښه داده چې يو مسجد وي او لمونځ کوونکي ولري، نه داچې مسجد وي خو لمونځ کوونکي پکې نه وي، په ځينو کليو کې خو د ځينو مسجدونو دروازو ته قلف لويدلي وي، نه امام لري او نه لمونځ کوونکي، يو کور وي ځانته يې جوړ کړی وي، دغه ډول کړنه ګناه ده. بايد کليوال او علماء يې مخنيوې وکړي. هو که خلک ډير وي او هر مسجد لمونځ کوونکي پيداکړي، بيا دې نږدې هم جوړ شي، لکه په ښارونو کې چې ډير نږدې، حتی

د سرک په یوه غاړه یو مسجد وي په بله غاړه به یې بل مسجد وي، مګر دواړه مسجدونه چې وکتل شي ، ډیر خلک به پکې د لمانځه له پاره شتون لري.
په ښارونو کې په ځینو مسجدونو کې مسائلې خولی ایښي وي، که کوم ځوان سرتور سر په لمانځه ودریږي، او یا خو د جنوب ولایتونو کې لنګوټه پر سر ونه لري، کلیوال په ښه سترګه ورته نه ګوري، دا ډول ځیني نور واړه اختلافونه وي، مګر کلیوال شخړې ته پرې ورسیږي، ښه داده چې ملاامام د فتنو د مخنیوي له پاره خپل مقتیدان وپوهوي چې ددوی اعمال د فتنې سبب نه شي. او په ځینو وړو مسایلو شخړې او جنګ ته خبره ونه رسیږي.
د کابل او په ټوله کې د افغانستان په ټولو لویو او وړو ښارونو کې مسجدونه سم اومناسب د اودس کولو ځایونه نلري، اوس نوي غټ مسجدونه چې جوړیږي دغه ستونزه په نظر کې نیسي، ښه داده هغه زاړه مسجدونه چې دغه ستونزه لري او د اودس کولو له پاره د ځای ساحه ولري، ورته جوړ شي، او که د ځان مینځلو ځیني غرفې ولري، داخوبه ډیره ښه وي، زه خو امید لرم چې په ژمي کې په کابل او سړو ښارونو کې د ګرمو اوبو تنظیم هم ؤ شي.
د کلیو په مسجدونو کې بالعموم د اوداسه ځای په نظر کې نه نیول کیږي، سمه ده چې په کلي کې ویالي شته، اوبه شته، مګر کله اوبه وچې شي، ویالي نه وي رواني، د اوداسه له پاره د ځانګړې ځای اړتیا وي.
یو بل ډیر ناوړه عمل چې په جوماتونو کې ترسره کیږي، هغه حجامت دی، په اطرافي سیمو کې یو عادي دود دی، چې دم راځي او د جومات د ساحې په دننه کې د کلیوالو د سرونو او بریتونو ویښتیان ورکموي.
لویه ستونزه چې موږ یې لرو هغه د میرمنو له پاره په مسجد کې ځانګړی ځای او یا ځانګړی مسجد نه شته، کله چې میرمن له کوره ووځي بیا نو هغه فکر کوي چې نور د لمانځه کولو چانس نه لري، په لویو لارو هم د لمانځه له پاره هیڅ ډول ترتیبات میرمنو ته په نظر کې نه دی نیول شوي، ښه به وای چې د نارینه ؤ د مسجد ترڅنګ یا خو همدغه مسجد کې کوچنی ځای بېل او پرده پکې ولګول شي او یا ورسره جوخت یو کوچنی د میرمنو مسجد شتون ولري، دا ډول د میرمنو له پاره د اوداسه بېل ځای. ددې کار له پاره تر ټولو د همهغه مسجد ملاامام ښه رول لري، چې د هغې اړوند سیمې خلک قانع کړي، او عملا دمیرمنو له پاره د ځانګړي ځای اقدام وکړي.
ځیني کلیوال مسجدونه داسې وي چې ملاامام ته ځانګړی اطاق نه لري، ملاامام په هغه مسجد کې بستره ایښي وي او مسجد یې د اوسیدو او ویده کیدو ځای وي، او ځیني خو داسې هم وي چې د مېلمه ځای یې هم مسجد وي، دغه کړنه هم سمه نه ده، ملایان خلکو ته وایي چې په مسجد کې مه ویده کیږئ، خو کله چې دده په اړه سوال کیږي بیا وایي چې ضرورت دي، ښه داده چې کلیوال د ملاامام د جلا اوسیدو له پاره غم وکړي.
د روژې میاشت کې او ځیني وختونه د خیرات ډوډی په مسجد کې وي، حال داچې د مسجد نظافت باید زیات وساتل شي، هو که ځای نه وی، ښه داده چې د مسجد څخه دباندې فرشونه اوار کړل شي، مګر په مسجد کې خلکو ته ډوډی ورکول د مسجد نظافت خرابوي. ولې که یواځې د روژه مات له پاره یوه خرما وي، بیا کومه ستونزه نه ده، خو که شړومبې په فرش توئیږي او یا کتغ د مسجد فرش بد بویه کوي، دا بیا سم کار نه دی.
ماشومان ښه دې چې د مسلمانانو دغه مهم او عظیم عبادت ووینې، مګر مسجد ته د ډیرو کوچنیو ماشومانو ننویستل د نورو لمونځ کوونکو توجه خرابوي، ولې که داسې ماشوم وي چې لمونځ کولای شي، بیا ستونزه نه لري.
نفل لمونځ او سنت رکعتونه بهتره به وي چې د باندې وښې، ځیني کسان وي چې د نورو لمونځ کوونکو خیال نه ساتي، یو خو جماعت ورنه تیر وي، یا ناوخته راشي، بل نو بیا نفلونه هم ډیر کوي، د هغو لمونځ کوونکو لاره یې بنده کړې وي چې هغوئ په جماعت سره لمونځ اداء کړی وي، ځیني ورونه خو داسې وي چې مسجد کې به ځای

وي، مګر بیا به هم د مسجد په اخر کي ولاړ وي، ددي ویره وي چي سړی یي په تیروتنه دده د لمانځه مخکي تیر شي، ښه داده چي دغو وړو ستونزو ته متوجه واوسو، او ملاامامان په تکرار سره خپل مقتدیان مخاطب کړي.
ځیني داسي ورونه وي، ښه پوهیږي چي د جماعت وخت نږدي دی، مګر په سنت او یا نفل لمونځ ودریږي، کله چي د جماعت اقامت وشي که څه هم دغه نفربه رکوع ته نه وي تللی خو دوه رکعته او یا څلور رکعته پوره کوي، باید خلک وپوهول شي، ځیني بیا دومره نابلد وي چي د جمعي دورځي دوېم اذان او یا خطبه شروع وي، مګر دغه ورور بیا هم د سنت لمونځ  نیت  تړي.
په ځینو کوچنیو مسجدونوکي تشناب د مسجد له محراب سره ډیر نږدي وي، ښه داده چي تشناب د محراب سره نږدي نه وي.
ځیني ځایونه په زیارت کي دننه مسجد وي، او یا  خو په هدیره کي مسجد وي، دغه اختلافي موضوع هم د ملاامامانو له خوا روښانه کول په کار دي.
په لویو ښارونو کلیو کي ډيری داسي پخوانی مسجدونه دي چي دهغه وخت سره سم د قبلي جهت یي دهمهغه وختونود وسایلو او دلایلو له مخي ټاکل شوي، دهغه وخت د شرایطو او ظروفو په نظر کي نیولو سره موږ یي ډیر احترام لرو، اوس چي ټکنالوژي پرمختګ کړی، ځیني داسي مسجدونه شته چي د قبلي زاویه یي تغییر لري، مګر که د مسجد خلکو ته وویل شي، پر هغوئ درنه تماميږي، وایي چي زموږ پلرونو او نیکونو همداسي همدغه جهت ته لمونځ کړی، نه له امام او نه هم  له بل چاسره خبره مني چي یواځي په مسجد کي دننه د فرش زاویه لږ بدله کړي او د قبلي جهت یي سم شي. ځیني لوی مسجدونه دي چي په لوی لاس  یي د قبلي لوری د ملاامام د غفلت او ځینو نورو سببونو له کبله سم نه دی ټاکل شوی،  په اوس وخت کي په دي اړه د ملاامامانو توجه ډیره اړینه ده چي قوم او مقتدیان وپوهوي، او د هغو مسجدونو د قبلي لوری سم کړي کوم چي ستونزه لري.
مسجدونه د ذکر، عبادت ، درس او تدریس له پاره دي، نه داچي خیراتونه، او باندارونه وی، د ختمونو اړوند هم زموږ مشر انو علماؤ خلکو ته دغه مسئله نه ده واضیح کړي، چي په مسجدونو کي ختمونه که کیږي په کوم ډول باید وي؟
په لویو ښارونو کي بالعموم فاتحي په مسجدونو کي اخستل کیږي، یو لوی سرخوږی دی، هلته به د دولت امنیتي کسان هم راځي، عسکر او پولیس له بوټونو سره ننوځي، اول خو دغو امنیتي کسانو ته اړتیا څه ده چي په رسمي وخت کي فاتحي ته ځي، بل داچي مسجدونه یي د ذکر، درس او تدریس نه منع کړي وي. دا هم ستونزه ده چي مسجدونه د فاتحو ځایونه ګرځیدلي دي.
یو بل رواج دادی چي په مسجد کي پاک ښایسته فرش ویړ وي، مګر بیا به د ملاامام  وروسته په شمار څو نور جای نمازونه غوړیدلي وي، او په ځینو مسجدونو کي خو نږدې لومړی صف تر نیمایي پوري په  اضافي جای نمازونو ډک وي، په ځینو مسجدونو کي بیا د هر سړي جای نماز معلوم وي، په مسجد کي د ملاامام نه سواء د هیچا ځای ځانګړی کیدای نه شي.
کله چي د مسجد امام  د څو ورځو له پاره چیرته ځي او یا کوم وخت د  جماعت لمانځه ته ځان نه شي حاضرولای، ښه داده چي مناسب بل څوک غوره کړي چي د لمانځه په وخت کي د خلکو امامت وکړي، نه داسي څوک چي په جهر لمانځه کي په قرائت کي د ډیرو تیروتنو سره سره بیا هم قرائت ته ادامه ورکوي.
ځیني ورونه چي بوټونو کي یي پښو بوی کړی وي، دیته توجه نه کوي چي هغه جرابي لیري کړي، او یا خو پښي پاکي پریولي، همدغسي له بدبویه جرابو سره د مسجد په فرش دریږي، بیا فرش هغه بوی له ځان سره ساتي،  په

کلیوالو سیمو کې ځینې بزګر په خټو له چټلو پښتو سره او په ښارونو کې ځینې مستریان او ... له خیرنو جامو سره په جماعت کې دننوزو لمونځ کوونکو سره په صف کې دریږي. ښه داده چې لوموړی پښې او جامې پاکې او بیا مسجد ته داخل شي .

د ځینو دوستانو د خولې یو ډول بوی ځې چې اوږه یا بل داسې څه یې خوړلې وي، په صف کې دواړو لوروته کسان ورڅخه تکیف کیږي، ښه به وي چې مسجد ته دتګ نه مخکې خوله پاکه ووینځي او هڅه وکړي چې د خولې بوی ورک شي.

د صفونو د ترتیب اړوند احتیاط په کار دی، چې د دوو تنو ترمنځ ډیره فاصله نه وي، کوږ نه وي، واړه ماشوما ن سپین ږیرو ته ځای پریږدي.

یو بل مشکل دادی ځینې ورونه دریشې لري، مګر کله چې سرې په نفل یا سنت لمونځ ولاړ وی، ځینې دغه کسان چې دریشې لري که دسرې مخکې ولاړ وي، او رکوع ته ولاړ شي، نو بیا یې هغه بنین پورته شي، عورت یې ښکاره کیږي، ډیر احتیاط په کار دی. حتی کله خو چې په جلسه کې ناست وي هم یې عورت د شا نفر ته ښکاري، که څوک ووایې چې د شا سړی دي د سترګو نظر کښته ساتي دغه یې ځواب نه دی.

زموږ ټولنه نالوستې ده، ډیرو کسانو لمونځ له خپلو میندو او یا د کور دنالوستو غړو نه یاد کړی، ستونزه لري، که ملاامامان په حکمت سره د کلي او مسجد خلکو ته لمونځ تکرار تکرار وښئې او بیا یې پر دوئ هم په پوره حکمت سره تیر کړي، ځکه زموږ خلک په دې هم خفه کیږي چې ورته ووایې لمونځ دې سمه نه دی زده.

دا ډول د لمانځه او اوداسه فرض، واجب، سنت او مستحب هم مقتدیانو ته په تکرار سره د لمانځه وروسته د ۵ دقیقو له پاره که په ورځ کې یوځل ، د یوه وخت فرض لمانځه له اداء نه وروسته وویل شي.

د موبایل زنګ بیا هغه چې سندره وي، لوی ناورین دی، که په مسجدونو کې هغه آله ولګیږي چې د موبایل سیګنال بندوي، یا داچې کله هم زنګ راځي هغه نفر باید موبایل ته لاس کړي، او بند یې کړي، په دې اړه لازمې لارښوونې ملاامامان خپلو مقتدیانو ته وکړي.

د ملاامام له خوا د خطبې ویلو په وخت کې ځینې ځوانان خبرې کوی، په کار ده چې په تکرار تکرار سره دغه خبره خطیب وکړی چې د خطبې په وخت کې باید خلک خبرې ونه کړی.

په ځینو مسجدونو کې لوډ سپیکرخراب وي، خو بیا هم ملایې د چالان ساتلو هوس کوي، ښه به وی چې یا خو سم شي او یا بیخي ګول شي.

د جمعې لمونځ ځینې امامان خاص وخت ورته نه مراعت کوی، چې خلک ناوخته راشي امام هم خپل تقریر اوږدوي، بل داچې د تقریر انداز او وخت چې معلوم وی، نیم ساعت، دري پاوه او یا یو ساعت، کله کله له ټاکلي وخت نه ډیر شي.

په مسجد کې ډیری کسان له لمانځه وروسته او ځانګړې ډول د مازیګر لمونځ وروسته یا خو ذکر کوي، یا تلاوت، مګر ځینې ورونه چې نوي داخلیږي په ډیر لوړ اواز سره سلام اچوي، د ذکر کوونکو حضور ورخرابوي.

ځینې مسجدونه د چندو او بسپنتو له پاره همداسې نیمګړې ساتل کیږي، هغه خلک چې داکار کوي، فکر کوي چې مسجدبشپړ کړي بیا به د چندو دروازه پرې بنده شي، لویه ګناه کوي، چې د خدای په کور باندې ناروا تجارت کوي، دا ډول ځینې خلک مدرسې هم د ورته کار له پاره جوړوي او کاروي.

په لويو ښارونو کي د مسجدونو بنديدل هم ستونزه ده، يوائي په مشخصو وختونو کي خلاصيږي، د جماعت د لمانځه کولو پرمهال، جماعت اصل د ټولنيزو اسلامي فعاليتونو مرکز دی، که ممکن وي چي خلاص وساتل شي، خو چي د پوډريانو له خوا يي د فرش غلاکولو ويره نه وي.
پورته ځيني ټکي او خبرې وي، چي له ډيره وخته مي ذهن کي ګرځيدلي، اميد دی چي په ورڅو درني تمامي نه شي.